**بسم الله الرحمن الحيم**

## په سیاسي او عملي توګه د سوریې د کړکېچ حل

**(ژباړه)**

په دې کې شک نشته چې د نړیوال سیاست اصلي موخې او ناوړه نیت تل پټ جوړېږي، نړیوال سیاستونه داسې جوړ شوي، چې اسلام له منځه یوسي او د ژوند په چارو کې یې عملي کېدو ته پرې نږدي. دغو دولتونو ته د اسلام پر وړاندې جګړه له پخوانیو نسلونو په میراث پاتې ده. د اوسنیو دولتونو سیاست هم یوازې د مادي ګټې پر محور را څرخېږي، چې دا محور یې په غولوونکي او بېلابېل ډول پوښلی دی، نو ځکه عام خلک پرې غولوي. هغه کسان چې له سطحي مسلو سره بلد نه وي، له ستونزو سره مخ کېږي او د سیاسي موخو د درک توانایي نه لري.

موږ په داسې یو وخت کې ژوند کوو چې نړۍ پر یوه قطب بدله شوې او هغه امریکا ده چې د ختیځ بلاک له سقوط او د شوروي اتحاد له ړنګېدو وروسته یې نړۍ تر خپل کنټرول لاندې راوسته. دغه قطب (امریکا) د نړۍ د دولتونو سیاستونه د خپلو سیاستونو پر اساس کنټرولوي او د پاتې نورو دولتونه که څه هم چې په کنټرول کې یې نه دي، خو بیا هم د دوی پر وړاندې کوم ښکاره خنډ نشي کېدای. په همدې توګه دا قطب په دې توانېدلی چې ټول وسایل او امکانات د خپلو سیاستونو د عملي کېدو لپاره وکاروي او هڅه کوي چې د خواخوږۍ او مرستې د جملو او اصطلاحاتو تر شا خپله اصلي او غولوونکې څېره پټه کړي، هغه څېره چې د فرعوني فکر تګلاره تعقیبوي. الله سبحانه وتعالی د فرعون هغې خبرې ته اشاره کوي چې خلکو ته به یې ویل:

**﴿ذَرُونِي أَقْتُلْ مُوسَى وَلْيَدْعُ رَبَّهُ إِنِّي أَخَافُ أَنْ يُبَدِّلَ دِينَكُمْ أَوْ أَنْ يُظْهِرَ فِي الْأَرْضِ الْفَسَادَ﴾**

[غافر: ۲۶]

***ژباړه:*** *ما پرېږدئ، زه موسی وژنم او دی دې خپل رب راوغواړي. زه وېرېږم چې ستاسو دین به بدل کړي او یا به په دغې خاوره کې فساد او تباهي رامنځته کړي.*

د حقایقو څېرې په چټکۍ سره بدلیږي؛ امریکا د تروریزم پر وړاندې جګړې له اصطلاح څخه د شعار په توګه او له بشري حقونو، خپلواکۍ او عدالت څخه د خپلو عیبونو د پټولو لپاره ګټه اخلي؛ په داسې حال کې چې خپله تروریزم جوړوي او خلک یې د ځان غلام ګرځولي.

دا د امریکا د چل او فرېب د درک لپاره یوه سرېزه وه، چې د شام پر وړاندې رسم شوې او لا به هم رسمېږي؛ د هغې عقلیې د پېژندلو لپاره سریزه ده چې دغه لوی فرېب مدېریت او ترسره کوي او هم د هغو وسایلو او اسالیبو پېژندل چې ګټه ترې اخیستل کېږي.

د ۲۰۱۹م کال د فبرورۍ په ۱۴مه د «سوچي» تاریخي غونډې شعار، حقایق ګډوډ کړل. د وینې بهېدو درول، د ملکیانو ساتنه، سیاسي حل او فصل او د پناه غوښتونکو بېرته راګرځول هغه فرېب ورکوونکی او رنګارنګ پوښ دی چې د نړیوالې ټولنې عورت یې پټ کړی؛ په دې سره غواړي چې واقعي موخې پټې او د حقایقو څېره بدله کړي. که چېرې د هغو دولتونو وضعیت ته پام وکړو، چې د «سوچي» ناستې غږېتوب یې درلود، نو ښکاري چې هر یو له دغو دولتونو څخه د خپلو ګټو د خوندي کولو پر اساس له امریکا سره همنظره حل لاره وړاندې کوي.

روسیې درک کړې چې په یوه رښتیني کړکېچ کې ښکېل ده او د خپلې ابرو د ساتلو لپاره غواړي په یوه ممکن وخت کې په چټکۍ له سوریې څخه ووځي؛ په داسې حال کې چې په دې هم پوهېږي چې امریکا دا اجازه نه ورکوي څو له سوریې څخه په بریالیتوب او ویاړ سره بهر شي. په ځانګړې توګه همدا امریکا وه چې روسیه یې د سوریې په کړکېچ کې ښکېل کړه او د

نظامي مداخلې اجازه يې ورکړه. پر ادلب د نظام د واکمنېدو خبرې اترې په نژدې راتلونکي کې يا د امريکا د سياسي حل لارې له پوره کېدو وړاندې ناممکنې دي. امريکا پر نړيوالو سياسي حل لاره تپلې او هغه اقدامات هم په دغه سياق کې دي چې روسيې ته يې د سرته رسولو اجازه ورکول کېږي. روسيه دا توان نه لري چې پر نړيوالو نظامي حل لاره وتپي او د سوريې کړکېچ ته په خپله خوښه د پای ټکی کېږدي.

بل خوا، نړيواله ټولنه په دې پوهېږي چې د بشار اسد ځواکونه د روسيې او ايران د ځواکونو په مرسته نيول شوې سيمې نشي ساتلی؛ په ځانګړې توګه وروسته له هغه چې مبارزين د سوريې له ګوټ ګوټ څخه را وتوکېدل او ډېری ولسي خلکو د بشار د ظالم نظام پر وړاندې انقلاب پيل کړ. نظامي حل لاره د چارو د کنټرول ضمانت نشي کولی؛ ځکه د انقلاب اور به د تل لپاره په سينو کې ځلاند پاتې وي. هېڅ ځواک يې مړ کولی نشي او پر دې مسله تر ټولو غوره دليل هغه څه دی چې په درعا کې رامنځته شول.

نو په همدې توګه غرب د سوريې په شمالي سيمو کې د خپل واک د ډېرولو لپاره د هغو ډلو په مشرۍ تکيه کړې، چې په کم لګښت يې پېرلې. د ډلو مشري له غرب سره همنظره د چارو په کنټرول کې تر ټولو ځواکمن لوری و، چې له ځانګړي لګښت پرته د امريکا د سياستونو په خدمت کې دي. په هر حال، يوازې د شام خلک او د دوی هغه بچيان بريالي کېدای شي، چې په دې ډله کې وي.

ايران په دې لټه کې دی چې په سوريه کې د ځان لپاره د پښې ټينګولو ځای پيدا کړي. ايران په دې پوهېږي چې د ډيموکراسۍ تر نامه لاندې د بدلون ورځ را رسېدلې او دوی ښايي له سوريې ګوښه شي. ايران خپل ډېری اتباع سوريې ته ولېږل او د سوريې تابعيت يې ورته واخيست. ايران به د بشار له ظالم نظام څخه د دفاع په موخه تر مرګه ولاړ وي، حتا تر دې چې د سوريې ټول خلک په دې لاره کې قرباني شي.

په همدې توګه ترکيه بيا د خپل دولت د امنيت او پولو د ساتلو په غم کې ده. روسيې د «ادانا» توافق ليک په واسطه، چې د ترکيې د نظام او سوري سيالانو تر منځ په ۱۹۹۸م کال کې لاسليک شوی و، د ترکيې دغې انديښنې ته ډاډ ورکړ. همدارنګه د دغه توافق ليک په يوه برخه کې ترکيې ته دا حق ورکړل شوی و، چې د سوريې په خاوره کې تر پنځو کيلو مترو پورې ترورېستان تعقيب کړي او هم د ترکيې ملي امنيت ته د خطر پر مهال اړين اقدامات کولی شي.

نو دې پايلې ته رسېږو چې د سوچي ناسته د شام د خلکو د ګټو لپاره نه، بلکې په هغې کې د ګډونکونکو غړو د ګټو د ساتلو لپاره جوړه شوې وه. له شک پرته چې د سوچي ناستې د امريکا له سياسي حل لارې سره کوم ټکر نه درلود؛ بلکې حتا هڅه يې دا وه چې د اساسي قانون د کمېټې د جوړولو له لارې هغه قانون تصويب کړي چې د دولت جوړښت ځانګړی کوي.

په عملي ډګر کې بيا درنو بمباريو ډېرې سيمې د وژنو په وحشي مرکزونو بدلې کړې، د ډلو مشران ارامه کېناستل او د دغې صحنې ننداره يې کوله. د دې ترڅنګ پر خلکو فشار و، چې يوې ټيټې مرحلې ته تياری ونيسي او دا ټيټبدل په دې پلمه رامنځته کېدل، چې ګواکې د وينو د توييدو مخنيوی کوي. کله چې غواړي د اسد نظام پر ځينو سيمو واکمن کړي، نو دا ډول فشارونه پر خلکو ډېروي. د شام خلک بايد په ښه توګه د جګړې حقيقت او د خپلې قضيې لويوالی درک کړي، جګړه يې د مرګ او ژوند جګړه او قضيه يې يوه برخليک ټاکونکې قضيه ده. د شام خلک بايد په دې پوه شي چې منافقين او خاينين هېڅکله د دوی دوستان نشي کېدای او پر هغوی د دوست ګومان کول خپله د دښمنانو په کنده کې د ځان غورځول دي، چې په دې حالت کې يې بيا تباهي حتمي ده.

وروسته له دې کله چې د شام خلکو د جګړې حقيقت درک کړ او خپل دښمنان يې په ښه توګه وپېژندل، نو هغه مهال بيا په جګړه کې خپله تکيه او توکل په پوره توګه د الله سبحانه وتعالی په قدرت سره کوي. د شام خلک بايد پر الله سبحانه وتعالی باندې د خپل باور سندونه وړاندې کړي او د وضعي پروګرامونو په بدل کې بايد د مسلمانانو له عقيدو څخه اخيستل شوی سياسي قانون وټاکي؛ دا به هغه بديل وي چې الله سبحانه وتعالی راضي کوي او د منلو او د الله سبحانه وتعالی د نصرت وړ به وي. هغه مهال به د قدرت خاوندان د

ولس له غبرګ راپورته شي او اوږه په اوږه به د دغه نظام د جوړلو په موخه له یوې مخلصې سیاسي مشرۍ سره یوځای شي او د بشار د جنایتکاره نظام د سقوط لپاره کومه هڅه ونه سپموي. هغه وخت به د رسول الله صلی الله علیه وسلم زېرۍ چې د نبوت پر منهج د راشده خلافت راتلل دي، پر یوه حقیقت بدل شي.

**لیکوال: استاد احمد عبدالوهاب**

**د حزب التحریر-ولایه سوریې مطبوعاتي دفتر رئیس**

**۱۴۴۰هـ.ق، د جمادی الثاني ۲۱مه**

**۲۰۱۹م، د فبرورۍ ۲۷مه**

**ژباړن: منصور دریځ**